# د نصاب او ښوونکي روزنې رياست کلنی راپور

## د لاسته راوړنو لنډيز ( خلاصه )

1. د تخنيکي او مسلکي زده‌کړو ښوونيزو مراکزو اړوند کابو د ۳۰۰ تنو نويو مقررشويو ښوونکو د ښوونې او روزنې په برخه کې اړتياوې په ګوته شوې او په پام کې ده چې په نږدې راتلونکې کې د دوی اړتياوو ته په کتو سره، د تدريسي- پرو سې د کيفيت او پياوړتيا اوهمداراز په رشتوي برخه کې د هغوی د مهارتي سطحې د لوړاوي په موخه ښوونيز ورکشاپونه تدوير شي
2. د صنعت، کرنې او خدماتو او اړيکو سکتورونو اړوند د ۱۲ ډيپارتمنتونو د بېلابېلو تخنيکي او مسلکي ځانګو په ښوونيز نصابونو باندې د بازار او ټولنې له اړتياوو سره سم بياکتنه ترسره شوېده.
3. په بېلابېلو تخنيکي او مسلکي ځانګو کې کابو ۳۸۰۰۰۰ دری سوه هتيا زره ټوکه درسي کتابونه او ۳۷۵۰۰ اوه ديرش زره پنځه صوه درسي توکي چاپ شوي او ښوونيزو مراکزو ته يې وېشل شوېده
4. د تخنيکي او مسلکي زده‌کړو په سيستم کې د ا ستادۍ او همداراز په نورو اداري اکاډميکو بستونو کې کابو د ۱۵۰ تنو نويو مقرر شويو کسانو څخه د فني- تدريسي کادر د غړي په صفت علمي سمينارونه اخيستل شوي دي او همدا راز د ۳۰۰ تنو فني تدريسي کادر د غړو کادري رتبې، حقوق او امتيازات تثبيت شوي دي

## د ۱۴۰۱ هجری شمسی (۱۴۴۴ هجری قمری ) کال عمده لاسته راوړنی (تفصيل )

1. د تخنيکي او مسلکي زده‌کړو اداري اړوند ښوونيزو مراکزو، کابو د ۲۰۰ تنو ښوونکو لپاره په بېلابېلو تخنيکي او مسلکي ځانګو کې د هغوی د رشتوي او پېداګوژيکي مهارتونو د سطحې د لوړاوي په موخه ښوونيز ورکشاپونه او علمي سمينارونه داير شوي دي او کابو ۱۰۰ تنو ښوونکو ته ښوونيز ورکشاپونه او علمی سمينارونه د تطبيق په حال کی دی.
2. د تخنيکي او مسلکي زده‌کړو ښوونيزو مراکزو اړوند کابو د ۳۰۰ تنو نويو مقررشويو ښوونکو د ښوونې او روزنې په برخه کې اړتياوې په ګوته شوې او په پام کې ده چې په نږدې راتلونکې کې د دوی اړتياوو ته په کتو سره، د تدريسي- پرو سې د کيفيت او پياوړتيا اوهمداراز په رشتوي برخه کې د هغوی د مهارتي سطحې د لوړاوي په موخه ښوونيز ورکشاپونه تدوير شي .
3. د نصاب او ښوونکو د روزنې رياست اړوند د ښوونکو روزنې، ښوونيز نصاب او همدا راز د ښوونکو د کادري حقوقو او امتيازاتو اړوند لوايحو او طرزالعملونو باندې د ا سلامي امارت عاليقدر امير المؤمنين حفظه الله همداراز د کابينې د هداياتو او له تخنيکي پلوه اړتياوو ته په کتو سره بياکتنه ترسره شوېده او ياد اسناد د نورو پړاونو تېرولو او وروستي کولو په موخه اړوند مراجعو ته استول شوي دي.
4. د نصاب او ښوونکو روزنې رياست اړوند فعاليتونو او کړنو په ترسراوي کې شفافيت تامين او د اسلامي امارت د مشر تابه او رهبرۍ ټولو هداياتو او سپارښتنو ته پاملرنه شوې ده او د اصولو او مقرراتو پلي کولو ته کلک هوډ او ژمنتيا موجوده ده.
5. د تخنيکي او مسلکي زده‌کړو اداري اړوند مرکزي مطبعه او د بريل ملی مطبعی فعاله شوېده او د چاپ ظرفيت يې لوړ شوی دی همداراز د خاصـو او ا ستثنايي زده‌کړو په برخه کې د دغه اداري اړوند ۱۲ بابه ښـوونيزو مراکزو د بېلابېلو تخنيکي ، مسـلکي او مهارت محوره ځانګو د درسي کتابونو او توکو د چاپ په موخه د بريل مطبعه فعاله او ګټې اخيستنې ته سپارل شوېده.
6. په بېلابېلو تخنيکي او مسـلکي ځانګو کې کابو ۳۸۰۰۰۰ دری سوه هتيا زره ټوکه درسي کتابونه او ۳۷۵۰۰ اوه ديرش زره پنځه صوه درسي توکي چاپ شوي او ښوونيزو مراکزو ته يې وېشل شوېده.

7. د تخنیکي او مسلکي زده‌کړو په سیستم کې د ا ستادی او همداراز په نورو اداري اکاډمیکو بستونو کې کابو د ۱۵۰ تنو نویو مقرر شویو کسانو څخه د فني- تدریسي کادر د غړي په صفت علمي سمینارونه اخیستل شوي دي او همدا راز د ۳۰۰ تنو فني تدریسي کادر د غړو کادري رتبې، حقوق او امتیازات تثبیت شوي دي.

عمده او بنسټیزې کړنې:

د ۲۴ څانګو د ښوونیز نصاب تدوین او بیا کره کتنه څرنګه چې:

د (۱۰) څانګو درې کلن او دوه کلن بنسټیزو دورو هر یو:

۱-عمومي زراعت ۲-اســلامي زده کړې ۳-عمومي زده کړې ۴-الکتروتخنیک ۵-ریل پټلی ٦-فلزکاري ۷-اوبه رسونه(آبرساني) ۸-ترکاڼي ۹-حیواني علوم ۱۰- نباتي علوم

- ۱۴لنډ مهاله دوره هریو:

۱-لاس ګنډنه ۲-مبایل ترمیم ۳-د ســبزیجاتو پروســس ۴-چرګانو روزنه (مرغداري) ۵- کب روزنه ٦- د لبني محصولاتو پروسس ۷-د مرخیړي پروسس ۸- د بادرنګ او رومي بانجانو پروسس ۹- د میوو پروسس ۱۰- د کمپیوټر زده کړه ۱۱-سولري برق ۱۲-خیاطی ۱۳- موټرسایکېل ۱۴- فلز کاري

۲- په ۷ څانګو کې د ۹۰ عنوانه درسي کتابونو او لکچرنوټونو تالیف او تدوین:

۱-قالین اوبدنه ۲-آشپزي ۳- نه اوریدونکي ۴- کمپیوټر ۵-د ودانیو ویرنګ ٦-نفت او ګاز ۷- معدن

۳- په یوې څانکه کې د ۲۵ عنوانه درسي کتابونو ژباړه:

۱-وترنري

**د ۱۴۰۲ هجری شمسی (۱۴۴۵ هجری قمری) کال عمده پلانونه**

1. بودجوی امکاناتو ته په کتو سره په ښوونیزه برخه کې کابو د ۴۵۰ تنو ښوونکو د اړتیاوو په گوته کول او کابو ۷۰۰ تنو ښوونکو ته په بېلابېلو مهارت محوره تخنیکي او مســلکي ځانگو کې د هغوی د مهارتي سطحې او ظرفیتونو د لوړاوي په موخه د ورکشــاپونو دایرول.
2. د کار بازار له اړتیاوو سره سم د تخنیکي او مسلکي بېلابېلو ځانگو د ښوونیز نصاب تدوین، پراختیا او بیاکتنه.
3. د درسي کتابونو او توکو د چاپ په موخه د تخنیکي او مسلکي زده‌کړو ادارې د مرکزي او بهرنۍ مطبعې د چاپ د کیفیت او ظرفیت لوړوالی.
4. ۲۷۸۰۰۰ دوه سوه اته اویا زره درسي متابونه او موادو ته د زده‌کوونکو لاسرسی پیداکول.
5. د ۲۵۰ تنو اکادمیک بستونو او ښوونکی په کادر فنی تدریسی کی د شاملیدو په خاطر علمی سمینارونه اخیستل کیږی.

**د (۷) ځانگو ښوونیز نصاب پراختیا او بیا کره کتنه:**

۱-د خوراکي توکو پروسس ۲- د قرآنکریم حفظ او اسلامي زده کړې ۳-عمومي زده کړې ۴- ماشین ۵- د سرک جوړونې د وسایطو ترمیم ٦- معماري ۷- PLC او CNC

**۲- په درې ځانگو کې د ٦١ عنوانه درسي کتابونو تالیف او تدوین:**

۱-عمومي مضمونونه ۲-نه اوریدونکي ۳- برق

**۳- په دوه ځانگو کې د (۵۵) عنوانه درسي کتابونو ژباړه:**

۱-سوداگری اداره ۲-نباتي او حیواني علوم